**لنډيز**

"سهار و او زه په کور کی وم چی دا پيښه وشوه. ځما لور او ځما دوه وريری د يو عالم څخه د قرآن کريم د زده کړی لپاره مدرسی ته روانی وی. کله چی هغو له کوره وتل، ما ليدل چی د هغوی په لاسونو کی قرآن کريم و. هغوی خوشحاله ماشومان وو او تل به يی ما ته ويل چی کله دوی لويی شی نو غواړی چی ډاکترانی شی چی د خلکو او د خپل مور او پلار خدمت وکړی. له چاودنی څخه وروسته زه خبر شوم چی ځما لور او دواړه وريری ټپی شوی دی. مونږ هغوی روغتون ته يووړلی خو ځما د يوی وريری ټپونه ډير جدی وو او په حق ورسيده. نورو دوو ماشومانو به ځما نه د هغی په هکله پوښتل او ما به ورته ويل چی هغه ښه ده او کور کی ده، خو حقيقت خو دا دی چی هغه نوره د هغويی سره نشته او دوی بيا نه سره لوبی کولای شی او نه هم ښوونځی ته تلای شی. دا ماشومان د جګړی د هيڅ پلو سره تړلی نه وو، دوی د خپلی راتلونکی په هکله اميدونه لرل، خو دی بيهوده جګړی له دوی څخه د دوی د راتلونکی اميدونه او ژوند واخيست."

د خوست ولايت څخه يو قومی مشر چی د ۲۰۱۱ کال د مارچ په ۱۵ مه يوی چاودنه کی د خپلی لور او وريرو (چی ۱۰ او ۱۲ کاله عمرونه يی وو) مرګ او ټپی کيدل بيانوی.[1]

د ۲۰۱۱ کال لومړنی شپږ مياشتو کی وسله والی جګړی د ملکی وګړو په ژوند زيات غمجن اغيزی پريښی اود ملکی وګړولپاره يو تت انځور ځرګندوی. لکه څنګه چی جګړه په سويل او سويل ختيځو پخوانيو سيمو کی سخته شوی او په شمال او لويديځ کی نورو ولسواليو ته هم غځيدلی ده، ملکی وګړی د خونديتوب لا ټيټی کچی سره مخ شوی دی. په عين حال کی،غير دولتی وسلواله ډلو يا د حکومت ضد عناصرو د مرګونی نتيجو دردلودلو سره خپل تکتيکونو ته تغير ورکړل. د دولت ضد عناصرو په زياتيدونکی توګه د ناقانونه جنګی وسيلو او ليارو څخه استفاده کوی چی په کی تعبيه شوی چاوديدونکو توکی، په ځانګړی توګه هغه چی د قربانی سره د تماس په پايله کی چوی او د ځمکنی ماينونو غوندی عمل کوی، بی له تفکيکه په هر چا، چی کله وربادنی قدم کيښودل شی او يا کومه نقليه واسطه پری وخيژی نو بيا انفجار کوی، د مهمو ملکی خلکو مخامخ په نښه کول او وژنی او د روغتونونو په ډول له تيری څخه خوندی ځايونو باندی بريدونه شامليږی.[2] دا تکتيکونه د افغانانو د ژوند اساسی حق، او د نړيوالو بشردوستانه قوانينو د اهدافو د تفکيک، او نسبيت او احتياط اصول نه سرغړونه ده ، چی د جګړی ټولی خواوی—د حکومت ضد عناصر، افغان امنيتی ځواکونه او نړيوال وسله وال ځواکونه—په دی مکلفوی چی د جګړی پر وخت د ملکی وګړو مرګ ژوبله حد أقل کچه کی ساتلو ته بشپړه پاملرنه وکړی .

د ۲۰۱۱ په نيمايی کی يوناما د افغانستان په جګړه کی يوځل بيا د ښکيلو خواو نه په کلکه غوښتنه کوی ، چی د ملکی وګړو د ساتنی لپاره لا ډير او ټول لازم تدابير ونيسی..

---

[1]- د ۱۰۱۱ کال د مارچ په ۱۵ مه نيټه د جګړی د زيانمن شويو د پلار/تره سره د يوناما مرکه چی د مارچ د مياشتی په ۱۵ مه نيټه د خوست ولايت په نادرشاه کوټ ولسوالی کی يوه چاودنه وشوه چی يوه د ښوونځی زده کوونکی په کی ووژل شوه او دوه نجونی ټپيانی شوی.

[2]- د ضد پرسونل ماينونو د استعمال، ذخيره کولو، انتقال او له منځه وړلو په اړه کنوانسيون، د ۱۹۹۷ د سپتمبر مياشتی ۱۸ مه: د ماينونو د منع د تړون پر اساس د پرسونل ضد ماينونو استعمال، توليد، انتقال او د قربانی سره د تماس په پايله کی چاوديدونکی ماينونو ذخيره کول منع دی. افغانستان د دی تړون غړيتوب لری. هغه ماينونو په استعمال کی چی د فشار له امله انفجار کوی، د نظامی او ملکی اهدافو تر منځ په کی تفکيک نه شی کيدای. "هره ډله چی له دی ډول ماينونو څخه استفاده کوی، د منع شوو اسلحو او منع شوو جنګی ذرايعو د استعمال له کبله نړيوال بشر دوستانه قوانين او د افغانستان قوانين تر پښو لاندی کوی". طالبانو په ۱۹۹۸ کی د پرسونل ضد ځمکنی ماينونو په توليد ، تجارت او ذخيره کولو بنديز اعلان کړه. د ځمکنی ماينونو په اړوند د طالبانو د اسلامی امارت ۱۹۹۸ کال د اکتوبر د ۶ نيټی اعلاميی تر څنګ د راپور ۴۷ فوټ نوټ وګوری.

د ۲۰۱۱ کال په لومړی نیمایی کی یوناما **۱۴۶۲** د ملکی وګړو مړینی درج کړی چی د ۲۰۱۰ کال د عین مودی په پرتله ۱۵ سلنه زیاتوالی څرګندوی[3]. هغه اساسی بدلونونه اوتمایلات چی په ۲۰۱۱ کال کی د ملکی تلفاتو د زیاتیدو لامل ګرځیدلی، د تعبیه شوو چاودیدونکو توکو زیات او پراخه استعمال، زیات پیچلی ځان وژونکی بریدونه، د انفرادی وژنو پراخه کمپاین، د جبهه یی جګړو زیاتیدل، او په هوایی بریدونو کی د ملکی وګړو د تلفاتو زیاتیدل (په ځانګړی توګه د آپاچی هیلیکوپترونو له لاری) دی.[4]

په ټوله کی د ۲۰۱۱ کال په لومړی نیمایی کی د ملکی تلفاتو ۸۰ سلنه د دولت ضد عناصرو ته منسوب شوی ( د ۲۰۱۰ کال په پرتله ۲۸ سلنه لوړوالی څرګندوی) ،۱۴ سلنه دولت پلوه ځواکونو ته منسوبیږی (د ۲۰۱۰ کال په پرتله ۹سلنه ټیټوالی ښیی) او شپږ سلنه دجګړی نامعلوم خواو ته منسوب شوی.

د دولت ضد عناصرو لخوا ځایی پر ځای شویی چاودیدونکی توکو او ځان وژونکو بریدونو تکتیک د ټول ملکی تلفاتو سم نیمایی (۴۹ سلنه) د مرګ ژوبلی لامل شوی دی. د تعبیه شوو چاودیدونکو توکو له امله د ملکی خلکو مړینه د ۲۰۱۰ کال د عین مودی په پرتله ۱۷ سلنه لوړوالی په ګوته کوی ،چی دا د ۲۰۱۱ کال په لومړی نیمایی کی یواځینی تر ټولو ډیر وژونکی لامل دي. ځایی پر ځایی شوی چاودیدونکی توکی د ۴۴۴ ملکی خلکو د مړینی لامل شوی چی دا په افغانستان کی د ملکی وګړو د مړینی ۳۰ سلنه او دولت ضد عناصرو ته د منسوب تلفاتو ۳۸ سلنه تشکیلوی.

د یوناما له نظره ټول هغه چاودیدونکی توکی چی د قربانی د تماس سره چوی په حقیقت کی ځمکنی ماینونه دی ،ځکه چی د هغی شکل او جوړښت داسی دی چی د ضد پرسونل ځمکنی ماینونوپه څیر عمل وکړی او هم دی وسیلو ته ورته خاصیت لری. د دولت ضد عناصرو لخوا د فشار سره چاودیدونکی توکی داسی عیار کیږی ، چی د قدم کیښودولو سره او که یا نقلیه واسطه وخیژی چی د ۱۰ نه تر ۱۰۰ کیلو ګرام وزن ولری ، انفجار وکړی. د فشار له امله چاودیدونکی وسیلو څخه ډیر یی ۲۰کیلو ګرامه چاودیدونکی موادو څخه جوړ وی چی د یو معیاری، ټانک ضد ماین دوه برابره مواد دی ، خو بیا هم د ضد پرسونل وزن درلودلو په تماس سره انفجار کوی. د فشار سره چاودیدونکو توکو د شکل او جوړښت له امله چی د ټانک د ویجاړولو وړتیا لری خو د یو دروند پرسونل ضد ځمکنی ماین په موخه کارول کیږی. هغه ملکی وګړی چی په دی چاودیدونکو توکو خپله تیریږی او یا نقلیه واسطه چلوی د خپل ځان نه د دفاع توان نه لری او د ژوندی پاتی کیدلو ډیر کم امکان یی لیدل کیږی . د دولت ضد عناصرو لخوا په افغانستان کی کاریدونکی چاودیدونکی توکی نږدی دوه په دریمه برخه داسی شکل او جوړښت لری چی د فشار په پایله کی انفجار کوی[5].

---


[3]- یوناما د ۲۰۱۱ کال په لومړی شپږو میاشتو کی ۲،۱۴۴د ټپی کیدنی پیښی ثبت کړی چی د ټول ټال ۳،۶۰۶ ملکی تلفاتو له جملی څخه ( ۱،۴۶۲ د مړینی او ۲،۱۴۴ ټپیان دی) ، چی د ا شمیره د ۲۰۱۰ کال د لومړی شپږو میاشتو په پرتله ۱۰ سلنه لوړوالی په نښه کوی .

[4]- د ملګرو ملتونو د مصونیت او امنیت (UNDSS) د برخی له خوا درج شوو معلوماتو پر اساس د ۲۰۰۳ ر ا پد یخوا چی د لومړی ځل لپاره ډیری د نا امنی پیښی ثبت شوی ، د ۲۰۱۱ کال لومړی نیمایی کی ۱۱،۸۲۶ پیښو په ثبت سره تر ټولو زیاتی نا امنی پیښی راپور شوی ، چی د د ۲۰۱۰ کال په همدی موده کی ۸۲۴۲ پیښی او او د ۲۰۰۹ کال په عین موده کی ۵،۰۹۵ پیښی رامنځ ته شوی دی . سویلی او سویل ختیزی سیمی د دی پیښو ۶۴ سلنه تشکیلوی، چی نږدی له دریو څخه دوه برخی کیږی. خو بیا هم د پیښو میاشتینی زیاتوالی له مخی د لویدیځه سیمه د ۳۵ سلنه زیاتوالی په لرلو سره تر ټولو لوړ ځای نیسی. جبهه یی جګړی او د چاودنو تر سره کول د پیښو ۷۱ سلنه تشکیلوی. (UNDSS) د ۲۰۱۱ کال په جون کی د بل هر وخت په پرتله د نا امنی تر ټولوډیری پیښی ثبت کړی دی.

[5]- یونا ما د ۲۰۱۱ کال د جولای په ۱۰ مه نیټه د ایساف د ماینونو ضد څانګی سره مرکه وکړه. په تیرو ۱۲ میاشتو کی د ایساف او افغان امنیتی ځواکونو لخوا ۲۰،۰۰۰ چاودیدونکی توکی له منځه ویوړل شول ، چی له دی جملی ۱۳،۰۰۰ وازمول شول چی د ټولو پاک شویو ۶۵ سلنه جوړوی. د چاودیدونکو توکو ۹۰ سلنه یی د فشار په نتیجه کی چوی چی له دی جملی څخه ۶۹ سلنه یی د قربانی سره د تماس په پایله کی انفجار کوی.

د ۲۰۱۱ کال په لومړی نیمایی کې د ځان وژونکو بریدونو په حملو کی ۲۷۶ ملکی خلک وژل شوی دي چې د ټول ټال ملکی تلفاتو ۱۹ سلنه ( دولت ضد عناصرو ته ۲۴ سلنه منسوب تلفات) تشکیلوی . سره له دی چی د ځان وژونکو بریدونو شمیر د تیر کال د همدی دوری سره تقریباً برابر دی، خو د ملکی وګړو د مړینی شمیره د ځان مرګو بریدونو په پایله کی له بل هر تکتیک څخه تر ټولو زیات لوړ والی څرګندوی، چی د تیر کال د عین مودی په پرتله۵۲ سلنه زیاتوالی ښیی. ځان وژونکی بریدونه په دی کال کی ډیر پیچلی وو او اکثره وخت په کی له څو تنو برید کوونکو څخه په حیرانونکو بریدونو کی کار اخیستل شوی چی زیات شمیرملکی افغانان په کی وژل شوی.

انفرادی وژنو د تیر کال په شان په لوړه کچه دوام پیدا کړی چی په دی بریدونو کی د ولایتی شورا غړی، د پولیسو قوماندانان، د سولی شورا غړی، قومی مشران او هغه جنګیالی چی د جنګ جبهه یی پریښی او د دی هڅه کی دی چی بیرته خپلو ټولنو سره یو ځای شی، په دی وژنو کی په نښه کړای شوی دی . د ۲۰۱۱ کال د جنوری او جون تر منځ مهال کی ۱۹۰ په نښه شوی وژنو پیښی ثبت کړی دی ، په داسی حال کی چی د ۲۰۱۰ کال په عین مودی کی ۱۸۱ په نښه شوی وژنو پیښی ثبت شوی وی .




په افغانستان کی ټول هوایی بریدونه[6] د آیساف له خوا تر سره کیږی او د دولت پلوه ځواکونو له لوری هوایی بریدونه د ملکی تلفاتو عمده لامل دی . د ۲۰۱۱ په لومړی نیمایی کی ۷۹ ملکی کسانو مړینه د هوایی بریدونو په پایله کی رامنځ ته شوی او دا شمیره د ۲۰۱۰ کال د لومړی نیمایی په پرتله ۱۴ سلنه لوړوالی څرګندوی. د ملکی خلکو د مرګ ژوبلی کی زیاتوالی د آپاچی هیلیکوپترونو بریدونو پوری تړاو لری. د ۲۰۱۰ کال د ملکی وګړو د هوایی بریدونو په پایله کی د مړینی ۳۳ سلنه د آپاچی هیلیکوپترونو هوایی بریدونو ته منسوب شوی وه (د ټول ټال۱۷۱ مړینی څخه ۵۷) . د

[6]- هوایی بریدونو کی هغه ټول بریدونه شاملیږی چی د نظامی الوتکو څخه په کی د بمونو/ګولیو غورځول اجرا کیږی چی په کی ټولی الوتکی، هلیکوپترونه او بی پیلوټه الوتکی راځی.

۲۰۱۱ کال په لومړی  نیمایی کی د آپاچی هیلیکوپترونو هوایی بریدونو  ته منسوب تلفات ۵۶ سلنه تشکیلوی ( د جمله ۷۹ تلفاتو  څخه ۴۴ د هوایی برید په پایله کی ).[7]


د ځمکنیو جګړو او وسله والو نښتو په نتیجه کی د ملکی وګړو مرګ ژوبله هم د ۲۰۱۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو کی په څرګند ډول زیاته شوی ده. د ځمکنی جګړه په پایله کی ۳۰۴ ملکی خلک مړه  او ۳۵۴ ټپیان شوی و ، چی د ملکی خلکو په مړینه کی  ۳۶ سلنه لوړوالی راغلی، خو په مجموع کی د ملکی مرګ ژوبله کی د ۲۰۱۰ کال  په پرتله اته سلنه لوړوالی څرګندوی چی  د ځمکني نښتو په مهال  رامنځ ته شوی دی . یوناما  د ځمکني جګړه په پایله کی د دولت ضد عناصرو ته د ۱۸۸ ملکی  کسانو مړینه ،  د ۶۶  ملکی وګړو مړینه د  دولت پلوه ځواکونو ته منسوب ، او  ۵۰ ملکی وګړو مړینه د ښکیلو خواو د ډزو په تبادله کی ثبت کړی ده.

د شپی له خوا د تلاشی عملیات د دوه سلنی  ملکی تلفاتو  لامل شوی ، چی د ۲۰۱۰ د لومړی نیمایی په پرتله کم ټیت والی څرګندوی . یوناما د د د شپی له خوا د تلاشی عملیاتو په پایله کی د ۳۰ ملکی خلکو مړینی او ۱۴ ټپی کیدنی پیښی ثبت کړی دی.[8] سره له دی ، د افغان ولس  تر منځ د دی ډول عملیاتونو پر وړاندی کرکه او نا خوښۍ زیاته شوی . کله کله د شپی د تلاشی عملیاتو څخه وروسته له تاو تریخوالی څخه ډک لاریونونه هم  تر سره شوی چی د ملکی وګړو په مرګ ژوبله تمام شوی ، لکه په ننګرهار، کندهار او تالقانو ښار کی  په مظاهره چیانو د پولیسو له لخوا  ګولی وورولی شوی  او په پایله کی  ملکی تلفات رامنځ ته شول .

---

[7]- د ۲۰۱۱ کال د جون په ۲۵ مه د آیساف د ملکی تلفاتو د څارنی برخی سره یوه لیدنه کی یوناما ته معلومات ورکړل شوی چی آیساف په دی رپورټ کی ښودل شوو د نږدی هوایی بریدونو کی له AH-64 آپاچی هیلیکوپترونو څخه کار اخلی.

[8]- د ګال کرلوټا لیکل شوی  مقاله وګوری: د شپی لخوا عملیات؛  د طالبانو مخنیوی خو افغانانو لپاره  ملکی مرګ ژوبله ، نیویارک ټایمز د جولای ۸، ۲۰۱۱. د ناټو او افغان چارواکو ته په اوسط ډول په یو  میاشت کی ۳۰۰ د شپی  عملیات راپور ورکړل شوی . یوناما مشاهده کړی چی  شپی لخوا عملیاتو په هکله کره او دقیق ارقام لاس ته راوړل ستونځمن کار دی او عمده لامل یی د عملیاتو په هکله  د شفافیت نشتوالی ، په پراخه کچه دا عملیات د آیساف  ،  ملی  اردو ،نړیوال او ملی ځانګړی  ځواکونه او سرحدی پولیسو لخوا په یواځی او  یا  په ګډه توګه تر  سره کیږی. یوناما د ایساف نه ډیر ځل د  شپی دعملیاتو د ارقامو او اوښتی ملکی تلفاتو غوښتنه کړی ،خو آیساف د شمیرو د محرم والی له امله د معلوماتو د ورکړی څخه ډ ډه کړی .  د کاری چاپیریال او معلوماتو ته محدود لاس رسی ته په پام سره ، شاید یوناما  د شپی لخوا د عملیاتو د ارقام او  د دی  په پایله کی د ملکی تلفاتو بشپړ راپورونه لری.




د ۲۰۱۱ کال په لومړی نیمایی کی د ملکی تلفاتو زیاتیدل دا څرګندوی، چی د افغانانو په ورځنی ژوند کی تاوترخوالی نور هم مخ پر ډیریدو دی.[9] د هیواد په مختلفو برخو کی د جولایی په میاشت کی له نړیوالو امنیتی ځواکونو څخه افغان ملی امنیتی ځواکونو ته د امنیت د مسؤولیت د لیږد پر مهال، تاو تریخوالی مخ په زیاتیدو دی ځکه چی د دولت ضد عناصر په هڅه کی دی او غواړی چی دا وښیی چی ګوندی افغان امنیتی ځواکونه د دی قابلیت نه لری چی په یواځی ځان امنیت وساتی. د د ی سره مختلف وسلوالی ډلی هڅی کوی چی د سولی او بیا پخلاینی پروسه زیا نمنه کړی چی د ۲۰۱۱ په نیمایی کی د مخ پر زیاتیدونکي تاوتریخوالی څپو او وینی تویونی په پایله کی د ګڼ شمیر ملکی وګړو د مرګ ژوبلی لامل شو اوپه روانه وسلواله شخړه کی د دی تر مخه یی ساری نه لیدل کیږی.

د دی سره چی د دولت ضد عناصرو په تکتیک کی بدلون لیدل شوی د ۲۰۱۱ کال په لومړی نیمایی کی نوی ځایونه په نښه کړی دی . یوناما لومړی ځل پر دوه روغتونونو د بریدونو کره پیښی ثبت کړی دی کوم چی د بشر دوستانه قانون د اوصولوله مخی خوندی ځایونه دی . طالبانو د هغه ځان وژونکی برید مسؤلیت ادعا وکړه چی په ۲۱ د مئ یی په کابل کی په نظامی روغتون برید ترسره کړه او په پایله کی د د طب پوهنځی شپږ محصلین مړه او ۲۳ نور ټپیان کړل . یوناما پر روغتون دویم برید هغه وخت درج کړه ؛ چی په ۲۵ جون یو ځان وژونکی برید کونکی د لوګر ولایت په ازره ولسوالی کی په ملکی روغتون کی خپل چاودیدونکی توکو ته انفجار ورکړه

---

[9]- د ۲۰۰۷ را پدیخوا له کومه وخته چی یوناما د ملکی وګړو تلافاتو ثبت کړی دی د مئ میاشت ۳۶۸ ملکی تلفاتو په درلودلو سره تر ټولو زیاته مرګونی میاشت او ورپسی جون د۳۶۰ تلفاتو سره دویمه راځی . د د ی ترمخه د ۲۰۱۰ کال د اګست میاشت ۳۵۰ ملکی تلفاتو درلودلو سره لومړی ځایی نیولی وو چی د ټاکنو څخه وړاندی په افغانستان کی د تاو ترخوالی ډک وخت ګڼل کیده.

چې  په پایله کې ۲۰ ووژل ، د مړو د جملې څخه د واکسین لپاره کتار کې ولاړ ۱۳ ماشومان وو او ۴۳ نور یې ټپیان کړل چې ګڼ شمیر یې ښځې او ماشومان وو.

 د ۲۰۱۱ نیمایي کې په وسله واله نښته کې د ماشومانو استعمال او جلبول هم یوه ستره اندیښنه راوټوکیده . د مئ د میاشتې په لومړۍ نیټه په پکتیکا ولایت کې یوه ۱۲ کلن ځان وژونکې، چې یوناما تر دې دمه تر ټولو کم عمره برید کوونکې ثبت کړی، برید تر سره کړ چې درې ملکي وګړي په کې ووژل شول او ۱۲ تنه ټپیان شول. همدا شان یوناما د برید پر مهال د ښځینه  برید کونکو په شمول د ښځینه ځان وژونکې   پیښې ثبت کړې دي. د جون د میاشتې په څلورمه نیټه  طالبانو د هغه برید د مسؤلیت ادعا وکړه ، کله چې یوې شل کلنې ځان وژونکې برید کوونکې د کونړ ولایت د مروری په ولسوالۍ کې پر یوه امریکایي کاروان برید تر سره کړ. د جون په ۲۶ مه نیټه د ارزګان ولایت په چارچینو ولسوالۍ کې یوه اته کلنه نجلۍ هغه مهال مړه شوه چې د ځان وژونکې برید کوونکې په توګه ورڅخه کار واخیستل شو. د دولت ضد عناصرو دې ماشومې نجلۍ ته د چاودیدونکو توکو یوه بسته ورکړه چې ځان سره یې یوسي او کله چې د پولیسو یوه موټر ته ورنژدې شوه، نو د ریموټ کنټرول په ذریعه ورته انفجار ورکړل شو چې په کې یواځې همدا ماشومه ووژل شوه او بل هیچا ته تاوان و نه رسیده .

یوناما د طالبانو هغه تکتیکونه  ثبت کړي  دي چې ملکي خلک یې د زور دلیاری په  خپل ملاتړ مجبور کړي دي . د بیلګې په توګه د چاودیدونکو توکو ځایي پر ځایي کول، په نښه شوې وژنې ،او د ملکي کسانو پر وړاندې  نور عمدي بریدونو له ډار سره سره ، طالبانو د تهدید هغه  تکتیکونه لکه د شب نامو تیتول ،شفوي ګواښ ، اختطاف او ناقانونه پوستو ایجادول چې ټولنې پدې باندې مجبوره کړې چې دوی سره مرسته وکړي ادامه ورکړې ده . د مئ په میاشت کې د دولت سره د تړاو په ګمان ملکي وګړو ته د  ګواښ  ترڅنګ په لوګر ،نورستان ، کونړ ،ننګرهار ،سرپل او غور ولایتونو  کې ،  د د اختطاف ،په تګ راتګ بندیز او د شب نامو استولو راپورونه ورکړل شوي چې  ملکي وګړو ته  ګواښونه شوي چې له خپلو دندو لاس واخلي .

یوناما  مشاهده کړې ده  چې د طالبانو لخوا د ملکي وګړو د  تلفاتو کمښت کې پرمختګ په هکله   د ۲۰۱۱ کال لومړي نیمایي پر مهال ، د اپریل او  مئ په میاشت کې  بار باراعلامیې خپرې شوي دي خو سره له  دې هم د نړیوال بشر دوستانه قانون سره سم ټاکلي هدف په سمه  توګه ندې نښه شوي چې په ریښتیني توګه د ملکي وګړو تلفات را کم کړي[10]. طالبانو ملکي وګړي په مستقیم ډول خپل هدف ګرزولي او د هغوی وژلو ته یې  ادامه ورکړې او پرته له تفکیکه یې د هغه وسلو څخه کاراخستلي چې  بیلګه  یې دفشار په نتیجه کې چاودیدونکو توکو استعمال دی. طالبانو دملکي وګړوعمدي او په نښه شوي وژنو ته ادامه ورکړې، او د دولت ضد عناصرو په لویه کچه  ګڼ شمیر بې تفکیکه وسلوڅخه په ځانګړي توګه د فشار په نتیجه  کې چاودیدونکو توکې استعمال کړې دی . دغه چاودیدونکې وسیلې د پرسونل ضد ماین ورته عمل کوي چې د نظامي او ملکي هدف ترمنځ توپیر نشي کولای چې له دې امله غیر قانوني وسلې ګڼل کیږي. هر هغه  ډله چې د فشار په نتیجه کې چاودیدونکې توکې استعمالوي او د جنګې ممنوعه  وسلواو وسیلو څخه کار اخلي  د نړیوال بشردوستانه قانون او د افغاستان د قانون څخه سره غړونه کوي.

[10]- د افغانستان د  امارت اسلامي ( د رهبرۍ شورا د سپرلي موسم د عملیاتو د پیل اعلامیه  ۳۰ اپریل ۲۰۱۱ او  د افغانستان د اسلامی  امارت  ، په کندهار کې ۴۸ ساعته عملیات ،، بشیر راپور ۱۰ مئ ۲۰۱۱ . د دی سره  د راپورهغه برخې ته مراجعه وکړې چې ملکي وګړو د تلفاتو پر مهال طالبانو لخوا د اعلامیو  په اړوند ده.

د ۱۹۹۸ پر مهال طالبانو د پرسونل ضد ماینونو استعمال منع اعلان کړه اود علامیی په صادرولو سره یی د غندنی تر څنګ یی د دی کارول یو غیر اسلامی او غیر انسانی عمل وګڼل شو[11] . نو د طالبانو د هر فرد لخوا د فشار سره چاودیدونکی وسیلو استعمال د طالبانو د ځمکنی ماین د بندیز د اعلامیی څخه سرغړونه ده. یوناما د طالبانو څخه غوښتنه کوی چی په علنی توګه دی د دی وسلو په استعمال خپل تعهد تکرار کړی چی د طالبانو لخوا د دی نور کارول فوری بند شی.

د نړیوال ځواکونو څخه افغان ځواکونو ته د امنیت مسؤولیت انتقال د ۲۰۱۱ کال د جولای د میاشتی په ۲۰ نیټه ټاکل شوی، چی د دی ترمخه په رسمی توګه افغان سیمه ییزو پولیسوپروګرام د هیواد په یو شمیر سیمو کی پیل شوی دی. یوناما د افغان محلی پولیسو د پروګرام په هکله د حکومتی چارواکو او د ټولنو مشرانو مختلفو نظریو ریپورټونه لاس ته راوړي دي. یوناما محلی پولیسو کی د خلکو په جذب او د هغوی د هویت د تصدیق، دهغوی د اجراآتو څخه د نظارت ،کنترول او قوماندی په برخه کی هم ځینی اندیښنی او کتنی لری. د بیلګی په توګه، د ۲۰۱۱ کال د جون میاشت کی په لغمان ولایت کی سیمه ییز دولتی چارواکو ، د ولسوالی د شورا غړو او نورو د ټولنی وګړو داسی ریپورټ ورکړی چی دا پروسه یواځی د ولسوالیو په کچه زورواکانو په کنټرول کی ده او د محلی پولیسو جذب یی په اتفاق سره "د پخوانیو جهادیانو په وسلوبیا سمبالول ګڼلی دی چی د حکومت او نړیوالی ټولنی له خوا بی وسلی شوی وو." ځینو خلکو دا پروسه د کلی په کچه د دولت مخالفینو د نفوذ څخه د مخنیوی لپاره یو موزون قدم ګڼلی په داسی حال کی چی ځینو نورو خلکو د قوماندان سالاری، له قدرت څخه ناوړه استفادی او د جرایمو د زیاتیدلو د زیات امکان په سبب خپلی اندیښنی شریکی کړی.

د هلمند ولایت په مارجه ولسوالی کی د ټولنی مشرانو یوناما ته په ډاګه کړی ده چی سیمه ییز پولیس سیمی ته د طالبانو د بیا راستنیدو څخه مخنیوی کوی خوبیا هم دا وویل د وخته وړاندی دی چی ایا سیمه ییز پولیس د دی وړتیا لری چی اوږد مهاله ثبات به ټینګ کړای شی.

د کورنیو چارو وزارت سره یوځای، هغه نړیوال ځواکونه چی د سیمه ییزو پولیسو په برخه کی کار کوی د محلی پولیسو نه دی په جدی توګه نظارت او مراقبت وکړی . د دی لپاره چی دا پروګرام د ملکی وګړو خوندی ساتنه

---

[11] - د افغانستان د اسلامی امارت د ځمکنی ماینونو په هکله د ۱۹۹۸،د اکتوبر د ۶ می نیټی اعلامیه:


۱: په نړیواله کچه د (افغانستان د اسلامی امارت) د ځمکنی ماینونو په تولید ، تجارت ، ذخیره کولو او استعمال د بشپړ بندیز غوښته کوی او پدی اړوند په فعاله توګه بشپړی همکاری ته چمتو دی . ۲. په ملی کچه د افغانستان اسلامی امارت د ځمکنی ماینونو په تولید ، تجارت ، ذخیره کولو او استعمال باندی بشپړ بندیز اعلانوی ، او د افغانستان اسلامی امارت د افغانستان زیانمن شوی ولس او نړیوالی ټولنی سره د هر ډول ماینونو د نه استعمال ژمنه کوي . ۳. د افغانستان اسلامی امارت د ټولو وسلوالو مخالفینو ډلو نه غوښتنه کوی چی د ماینونود اسعمال ، تولید ، تجارت او ذخیره کولو څخه دی ډډه وکړی او نوردی د کړیدولو او زیانمن شویو افغانانو د زیان لامل نشی. ۴. هغه څوک چی په افغانستان کی ځمکنی ماینونه د ذاتی ، سیاسی او نور اختلافونو له امله استعمالوی ، د اسلامی قانون په رڼا کی به مجازات کیږی. ۵. د افغانستان اسلامی امارت د اوتاوا د تړون امضا ء کونکوغړو څخه مننه کوی ، او په کلکه د هغه هیوادونو څخه غواړی چی تر اوسه یی دا تړون ندی امضاء کړی ،چی د ځمکنی ماینونو تولید ، تجارت ، ذخیره کول او استعمال سم لاسی بند کړی او د اوتاوا تړون ته درناوی وکړی.

امضاء او مهر : د اسلام خادم امیرالمؤمینین ؛ (مجاهد ) ملا محمد عمراخوند .

داسی کوم سند وجود نه لری چی طالبانو دا اعلامیه لغوه کړی وی.

زیات معلومات لپاره: http://www.the-monitor.org/index.php/publications/display?url=lm/1999/afghanistan

ډاډمنه کړي، د ی ته اړتیا لیدل کیږي چی قومانده او کنترول کی ښه والی ته وده ورکړی او د ناوړه چلن او جرایمو کی د ښکیلتیا پر مهال دی چټک اجراات تر سره شی.




که څه هم افغانی ځواکونو ته د امنیت مسؤولیت انتقال د ۲۰۱۱ کال د جولای د میاشتی په ۲۰ نیټه په دری ولایتونو او او څلور ښارونو کی په رسمی توګه پیل کیږی، د هیواد په ځینو جګړه ځپلو سیمو کی نړیوالو وسله والو ځواکونو لا په ۲۰۱۰ کی له نظامی بیسونو او لری پرتو پوستو څخه په وتلو پیل کړی(د بیلګی په توګه دکونړ ولایت ځینی ولسوالی). یوناما د دی سیموڅخه د نړیوال ځواکونود وتلو وروسته د بشری حقونو د ساتنی په اړوند جدی اندیښنی د ر ج کړی دی .

د ۲۰۱۱ کال په لومړی نیمایی کی یوناما د یاغیانو پر وړاندی د پاکستانی پوځ له خوا په هغه آزادو قبایلی سیمو د عملیاتو له امله چی دغه سیمی د کونړ او ننګرهار ولایتونو سره ګډه پوله لری، د ملکی تلفاتو پیښی ثبت کړی .دا عملیات د ملکی وګړو د مرګ ژوبلی او سلګونو خلکو بی ځایه کیدلو لامل ګرځیدلی. د کونړ ولایت چارواکو دا تائید کړه چی د جون د میاشتی د ۱۵-۳۰ نیټی تر منځ مهال کی ۲۸۹ میزائیل له پاکستان څخه افغانستان ته ویشتل شوی چی شیګل، سرکانو، ناړی، دانګام او اسمار ولسوالیو کی پریوتی او ۱۴ تنه یی وژلی( اته ماشومان دی ) او ۱۶ تنه یی ټپی کړی دی. د ننګرهار ولایت د ګوشتی ولسوالۍ چارواکو هم د دی رپورټ ورکړی چی په وروستیو میاشتو کی داسی د ګولیو وریدل هلته هم روان چی د ولسوالی مرکزته د ۲۰۰۰ خلکو د بیځایه کیدلو سبب ګرځیدلی. د سرحد د کنټرول په برخه کی د امنیتی ځواکونو ناتوانی د دولت مخالف وسلوالو د فعالیت لپاره زمینه پراخوی ،او د دولت ضد عناصرو پر ضد عملیات بیا د تل ملکی وګړو ته د تاوان رسولو پایلی لری.

د ۲۰۱۱ کال د لومړیو شپږو میاشتو په ترڅ کی د جګړو د شدت موندلو په وجه د ملکی وګړو لپاره د امنیت خرابوالی د دی لامل ګرځیدلی چی ملکی وګړی د خپلی ساتنی او پناه لپاره ډیر کم ځایونه پیدا کړای شی. د ملکی وګړو د بیطرفی وضعیت یا حالت په زیاتیدونکی توګه د تهدید سره مخ دی ځکه چی دوی "د جګړی د دوو اړخونو په منځ کی راګیر دی". ملکی وګړی د دواړو اړخونو د مختلفو او متضادو غوښتنو او الزاماتو سره مخامخ دی چی په نتیجه کی ملکی خلک صرف نظر له دی چی څوک د چا طرف نیسی، د تهدید او تاو تریخوالی سره مخ کیږی. لکه د هلمند ولایت د مارجی ولسوالی یو اوسیدونکی چی یوناما ته داسی وویل:

"طالبان هر کور ته چی وغواړی په زوره ورځی. وروسته بیا له هغی کور څخه ډزی کوی او بیا آیساف او ملی اردو پر هغه کور ډزی کوی. خو که زه طالبانو ته ووایم چی ځما کور ته دی نه راځی، نو طالبان به ما ووژنی. نو ځواب به څه وی؟ یا به آیساف ما وژنی او یا هم طالبان. خلک په دی شکل ژوند نه شی کولای."[12]

مجموع کی د ملکی وګړو مرګ ژوبله، صرف نظر له دی چی څوک یی مسؤول دی، د کورنیو او ټولنو پر ژوند غمجن او تل پاتی اثر غورځوی. ملکی وګړی به هغه وخت ګټونکی وی چی په افغانستان کی په بشپړه توګه د ملکی وګړو تلفات را کم شی. یوناما په جګړه کی د ښکیلو خواو په کلکه غواړی چی لا زیاته هڅه وکړی چی د ملکی وګړو بیطرف والی ته احترام وکړی، د ملکی وګړو ساتنی ته زیات پام وکړی او د خپلو قانونی مکلفیتونو سره ځان برابر کړی تر څو چی ملکی تلفات او ملکی ټولنو ته زیان اړول راټیټ کړی.

[12]ـ د ۲۰۱۰ کال د آګست په ۲۳ مه د مارجی څخه بی ځایه شوو وګړو سره د یوناما مرکه.

لومړی ضمیمه ۱: ،یوناما د جون پر یوولسمه نیټه په مطبوعاتی اعلامیه کی ویلی وو چی د مئ د میاشتی په جریان کی ۳۶۸ ملکی وګړو وژل ثبت کړی چی د دی تلفاتو ۸۰ سلنه د حکومت ضد عناصرو ته منسوب کړای شوی وه. د هغی په ځواب کی طالبانو د جون په ۱۲ یوه اعلامیه خپره کړه چی د تلفاتو د ارقامو سره یی خپل مخالفت ښودلی و او د پیښو یو لست یی ورکړی وو چی ګوندی یوناما هغه پیښی نه دی حساب کړی. یوناما د هغو څخه د هری یوی پیښی وضعیت چی د طالبانو له خوا په ځوابی اعلامیه کی یادی شوی وی، و ارزاوه او د جون د میاشتی په شلمه نیټه یی طالبانو د پیښو لست ته ځواب واستاوه ،چی یوناما د هری یوی پیښی پلټنه تر سره کړی وه .

**سپارښتنې**

یوناما او د افغانستان د بشرې حقونو خپلواک کمیسیون د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په هکله د ۲۰۱۰ کال په خپل کلني رپورټ کې ځینې اساسي سپارښتنې کړې چې د ملکي وګړو ساتنې ته وده ورکړي. په جګړې کې ښکیلو خواوو دا سپارښتنې په بشپړ ډول نه دي عملي کړې. یوناما پر هغه سپارښتنو بیا تأکید کوي او په لاندې توګه نور ټکې پرې زیاتوي:

**د حکومت ضد عناصرو ته**

- د نسبیت، تفکیک او احتیاط اوصولو په شمول د نړیوالو بشر دوستانه قوانینوته احترام او د متابعت له لارې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې مخنیوی وکړي.
- د (ملکي) لفظ مفهوم د نړیوال بشردوستانه قانون په رڼا کې تعبیر کړي.
- سم له واره د ملکي وګړو په نښه کول او وژل بند کړي چې دوی د نړیوالو قوانیو له مخې له هر ډول برید څخه خوندي ګڼل کیږي او همدا شان هغه ټول اوامر او هدایات دې بیرته لغو کړي چې د ملکي وګړو وژلو ته جواز ورکوي.
- سم له واره پر روغتونونو بریدونه بند کړي.
- د فشار په واسطه فعالیدونکو چاودیدونکو توکو استعمال دې سم له واره بند کړي او خپل پلویان دې د هغوی له استعمال څخه منع کړي، او په علني توګه دې د دې ډول نا قانونه وسلو د نه استعمال ژمنه وکړي. په علني ډول دې طالبان د ۱۹۹۸ دطالبانو د ځمکنی ماینونو په استعمال بندیز اعلامیه بیا اعلان کړي او ټولو پلویانو ته دې دتنفیذ هدایت وکړي.
- داسې طرزالعملونه او هدایات دې نافذ او عملي کړي چې پر ملکي وګړو بریدونه منع کوي، او د حکومت ضد عناصرو هغه غړو سره دې احتساب وکړي چې ملکي وګړي وژني یا ټپي کوي.
- د یوناما سره دې د ملکي تلفاتو په هکله د معلوماتو شریکولو او خبرو اترو په موخه اړیکې ټینګې کړي.

**د افغانستان حکومت ته**

- یو مسلکي دولتي کمیټه دې جوړه شي چې د ملکي تلفاتو پیښو راپور ته د ځواب ویلو او د پلټنو واک ولري.
- د آیساف د ملکي وګړو د تلفاتو د تعقیب څانګې په ډول دې د ملکي وګړو د تلفاتو د تعقیب کمیټه جوړه کړي تر څو وکړای شي چې د افغان امنیتي ځواکونو لخوا د ملکي تلفاتو تعقیبول ډاډمن کړي، له تیرو کړنو څخه درس واخلي، او د ملکي وګړو ساتنې، معاوضه ورکولو او احتساب ته وده ورکړي.
- د نړیوالو وسله والو ځواکونو سره دې داسې تدابیر طرح او پلې کړي چې د هغه ملکي وګړو د وژل کیدلو مخنیوی وکړي چې د وژلو زیات خطر یې شته.
- د افغانستان د امنیتي ځواکونه ته دې ( ملي پولیس او اردو ) د نړیوال بشردوستانه قانون او بشرې حقونو په هکله لازمه روزنه ورکړل شي او دا روزنه دې د افغانستان د ملي ځواکونو د تربیت او روزنې لازمي برخې په توګه شامل شي.
- د ګڼې ګوڼې د کنټرول په برخه کې دې افغان امنیتي ځواکونو ته ځانګړې روزنه او ملي پولیس دې په داسې وسایلو سنبال کړي چې د وژونکې ځواک بدیل وي. د داسې بدیلونو قانوني او معیاري تطبیقول دې د مناسب ټریننګ له لارې ډاډمن کړي.

**نړیوالو وسله والو ځواکونو ته**

- د نظامی عملیاتو د پلان کولو او تطبیق په جریان کی دی ټول ممکن احتیاطی تدابیر ونیسی چی د ملکی وګړو د مرګ، ټپی کیدلو او یا د ملکی شیانو د تخریب امکان کم کړی. سم لاسی او په بشپړه توګه دی نوی لارښودونه تطبیق کړی.
- ډاډمنه دی کړی چی د هلیکوپټرونو ټوله عمله د ځواک د استعمال د تکتیکی هدایاتو په برخه کی په سمه توګه تربیه شوی او په ټولو نږدی جنګی مأموریتونو کی دا تکتیکی هدایات د هلیکوپټرونو د عملی له خوا عملی کیږی. تحقیقات دی وکړی چی د آپاچی هلیکوپټرونو په عملیاتو کی د ملکی وګړو تلفات ولی مخ پر زیاتیدو دی او هغه بدلونونه دی عملی کړی چی د ملکی وګړو ساتنه او خوندی کول لا ښه کړی.
- د ۲۰۱۰ کال د جنوری په د ۲۳ مه نیټه صادر شوی "د شپی له خوا د تلاشی عملیاتو تکیتیکی هدایت" ته دی بیا کتنه وکړی تر څو ډاډمنه کړی چی د دی هدایت د ټولو ټکو عملی کول په هر عملیات کی اختیاری نه بلکه کی لازمی دی. ډاډمنه دی کړی چی د شپی د عملیاتونو په اړه هر نوی هدایت د داسی عملیاتونو د ملکی تلفاتو د تداوم په سبب لا زیات محدودیتونه وضع کوی او د شپی له خوا عملیاتونو کی دی رهبری د افغان امنیتی ځواکونو له خوا کیږی او نهایی هدف یی د عملیاتو "افغانی مالکیت" دی.
- د دی ډاډ دی ورکړی چی ټول ځواکونه د قوتونو د ساتنی تکتیک، تخنیک، او معیاری طرزالعملونو کی پوره روزل شوی دی. چک پوسټونه او د چټک غبرګون ځواکونه دی د وژونکی وسیلو پر ځای په نورو بدیلو وسایلو سمبال کړی. د ملکی خدماتو د ابلاغ یوه نوی دوره دی په ځانګړی توګه د راډیو له لاری پیل کړی تر څو چی ډاډمنه کړی چی ټول ملکی افغانان د خاصو چک پوسټونو او د قطارونو د طرزالعملونو څخه با خبره اوسی.